# په پښتو کښې د هندي سبک باني عبدالحمید بابا

## Abdul Hameed Baba; Founder of Hindi Style in Pashto Poetry

Banras Khan Kahattak*

**Abstract** :
The Hindi Style is one of the landmarking poetic forms of expression, especially in the construction of literary charateristics at Indo-Pak subcontinent. In this paper, the author has shared that Abdul Hameed Mumand, the classical Pashto poet is the archetic of the Hindi style of poetic expression in Pashto literature.After him, there is substantial response from the poets that have followed his footprints, which includes Kamgar Khan Khattak, Badil, Kazim Khan Shaida, Muhammadi Sahibzada, Ali Khan, Hanan Barakzai etc.

هندي سبک چې د فارسي ادب یو ډېر معروف سبک یادېږي، د اجزاوؤ مطالعه کول اود هغې په رڼا کښې خپلې دې دعوې ته رسېدل چۀ پښتو کښې عبد الحمید مومند د ذکر شوي سبک باني دی، او د دې سبک ګڼ خصوصیات ئې پۀ خپل کلام کښې ځای کړي دي- د حمید نۀ پس کامګار خان خټک، بېدل، کاظم خان شېدا ،محمدي صاحبزاده، علي خان او حنان بارکزي د غې سبک ته یو رواج ورکړي دی، چې د روښاني او خوشحال خټک او رحمان بابا ادبي مکتبونو په مېنځ مېنځ کښې ئې پښتو شعري ادب د یو نوي سبک سره اشنا کړی دی-

عبدالحمید بابا د پښتو هغه ړومبنی شاعر دی چې هندي سبک ته ئې د پښتو په شعري ادب کښې په شعوري طور وده ورکړه - د دۀ نۀ وړاندې د بایزید انصاري، خوشحال او د رحمان ادبي مکتبونه موجود وو- ولې د دوی پېروي ئې وه نۀ کړه او د هندي سبک په لاره ئې تلل خوښ کړل- د هندي سبک د ګڼو موضوعاتو سره سره ئې نازک خیالۍ ، باریک بینۍ، جدت پسندۍ، نازکو تشبیهاتو، استعاراتو،مضمون

---

* Banaras Khan is Lecturer at Government Degree College Taank

افرینی، مثالیه شاعری او نوو نوو شعري علامتونو ته خصوصي پام لرنه اوکړه او هم دا وجه ده چې د هندي سبک د شاعرانو رنګ ئې په غزلیاتو کښې ښکاره بریښي- رضا همداني په ځای لیکلي دي:

"حمید بابا نهٔ خو د رحمان خانقاهي اثر لاندې کړی دی او نهٔ د خوشحال د جدلیت نهٔ متاثر دی بلکې حمید بابا د فارسي بانو د تعقل پسندې ډلې اثر لاندې کړی دی او د حمید بابا په غزل کښې ښکاره د صائب، غني کشمیري، نعمت خان عالي، ناصر سر هندي او خصوصاً د بېدل ډول اسلوب فلسفه ، علو تخیل، مشکل پسندي او د خیالاتو ابتکار ځلېږي-" (1)

که په غور اوکتل شي عبدالحمید مومند د هندي سبک د شاعرانو د اثر لاندې په پښتو ادب کښې د یوهٔ ځانګري سبک بنیاد ایښې دی- دهٔ په خپلو غزلیاتو کښې د حسن او عشق وردات او داخلي احساسات بیان کړي دي که اخلاقي نکات او اجتماعي تعلیمات، په فني لحاظ ئې د نازک خیالی، مضمون آفرینی او رنګا رنګ تشبیهات او استعارات راوړي دي که د تمثیل نګاری، مضمون آفرینی او جدت پسندی مثالي شعري نمونې، غرض په فکري او فني لحاظ ئې د خپل لوړ او رنګین تخیل په اساس د ادب په آسمان کښې د رنګونو یو کهکهشان جوړ کړې دی- او خپل رنګین او حسین کهکشان له ئې ټول رنګونه د هندي سبک د شاعرانو نه را اخستي دي، په دې بنیاد په پښتو ادب کښې د هندي سبک باني ګرځېدلی دی. زلمی هېواد مل لیکي:

"د پښتو ادبیاتو ګرده محققین او پوهان په دې عقیده دي چې دهندي سبک اساسات په پښتو شاعری کښې تر هر چا د مخه عبد الحمید مومند ( ۱۱۴۸ هجري حدود) رعایت کړي دي او زیار ئې ایستلی دی- د دغه سبک له غوښتو ځخه سم خو دَ اعتدال په ساتلو سره خپله شاعري عیاره کړې"-(2)

(۴) پروفیسر ډاکټر پرویز مهجور هم عبد الحمید مومند په پښتو ادب کښې د هندي سبک سر خېل ګڼي او د دهٔ د سبک په حقله لیکي:

"د پښتو ادب د خيال بندود سبک مشر عبد الحميد بابا هم د سبک هندي د شاعرانو ښه مطالعه لري او د دوی د سبک نه متاثر دی - د حميد د اسلوب په ښېرازۍ کښې د دې شاعرانو د فکروفن د بهېدونکوچينو او ولو ډېر لاس دی"- (3)

په دې کښې شک نشته چې عبد الحميد د هندي سبک د شاعرانو نه متاثره دی او د هغهٔ د شاعرۍ په تناظر کښې دا خبره مسلم ده چې هغه د خپل وخت يو نابغه، زيرک فنکار او باشعوره شاعر وو- هغهٔ ته په شدت سره دا احساس وو چې پښتو شاعرۍ کښې د قوميت او روحانيت فلسفې سره تړلې مکتبونه خوشته، ولې د هندي سبک د اثراتو نهٔ پښتو شاعري تر اوسه محرومه پاتې ده - په دې اساس هغهٔ د نظير نېشاپوري، صائب تبرېزي، غني کشميري، طالب آملي او خصوصاً د بېدل د اثر لاندې هندي سبک ته رواج ورکړو او خپل فن ئې د هندي سبک په تناظر کښې ښهٔ اوځلولو او چې پښتو شاعري ئې د دې سبک د شاعرانو سره سياله کړه نو پهٔ فخر سره ئې وويل:

فارسيبانو د حيرت گوتې په غاښ کړې
چې حميد سخن سازي کړه په پښتو کښې(۴)

حميد په بنيادي طور د هندي سبک شېدائي وواو دا سبک د فارسي ژبې تر ټولو نهٔ زيات زړهٔ راښکونکی سبک دی- د نهمې صدۍ هجري په آخر کښې او د لسمې صدۍ هجري په شروع کښې دا سبک د بابافغاني، اهلي شېرازي، لساني، شريف تبرېزي، محتشم کاکاني، وحشي بافقي، ولي دشت، بياضي، حاتم کاشاني او د حضوري د جدت پسندۍ او فني نزاکتونو له کبله په وجود کښې راغلی وو- عرفي دې سبک ته خصوصي بخښني اوکړې ، صائب پکښې د استاد درجه حاصله کړه او هر کله چې د دې سبک د لوړې درجې شاعران عرفي، نظيري، ابو طالب کليم،طالب آملي هند ته راغلل نو دلته ئې دا فن د کمال درجې ته او رسولو او په متاخرينو کښې غنيمت کنجاهي، بېدل او غالب د دې سبک نمائنده شاعران گڼلی شي-

په هندوستان کښې د هندي سبک په رائج کولو او کمال ته رسولو کښې د عرفي، نظيري نېشاپوري، ظهوري، جلال اسير، شوکت بخاري، ابو طالب کليم، طالب آملي، غني کشميري، صائب تبرېزي، غنيمت کنجاهي، ناصر علي، نعمت خان عالي او د بېدل ستر لاس دی - تر ديار لسمې صدۍ هجري پورې دا سبک په اېران، توران او هند کښې ښۀ مقبول او مروج وو- د فارسي ژبې د نورو سبکونو په تقابل کښې دا سبک يو ځانګړی حېثيت لري دَ پروفيسر ډاکټر پروېز مهجور خويشکي د وينا مطابق:

"تازه ګوئي او معنیٰ آفريني، نازک خيالي او باريک بيني، جدت پسندي او دقت پسندي ، نوي نوي تشبيهات استعارې علامتونه او ترکيبونه د الفاظو شان و شوکت او د خيال رفعت د تخيل طلسميت او د وجداني کيفياتو استعجابيت، تجيسمي او مثاليه اسلوب، د دې سبک امتيازي شاعرانه فني خصوصيتونه دي- د حيات او کائنات ژوره مشاهده او تجربه ، رجائيت اعلیٰ تمدني، اخلاقي او معاشرتي قدرونه ، پند او نصيحت په فکر انګېزه او فلسفيانه رنګ کښې وړاندې کول د هندي سبک د خوښې موضوع ګاڼې دي-" (5)

د هندي سبک په فکري او فني تناظر کښې د عبدالحميد مومند په شاعرۍ کښې د دې سبک زيات تره موضوعات لکه اخلاقي او اجتماعي تعليمات، جماليات، عشقيه واردات او په فني لحاظ نازک خيالي، مضمون آفريني، مثاليه شاعري، نازک و ښکلي استعارات او تشبيهات، شعري علامتونه، مشکل پسندي، مبالغه آمېز افکار او شاعرانه تعلي په څرګند ډول ليدۀ شي -

په هندي سبک کښې نازک خيالۍ ته خصوصي اهميت حاصل دی - حميد بابا دا فني خوبي پۀ ډېر هنر او تېکنک سره په خپل کلام کښې ځای کړې ده - دۀ چې په خپلو غزلياتو کښې د نوو نوو تشبيهاتو، استعاراتو او د رنګين تخيل په بنياد د نازک خيالۍ کوم مې شعري نمونې چې منظر عام ته راوړې دي د هغې په اساس دی په پښتو کښې د نازکخيالۍ د فن ستر امام بللی شي.

"د حمید بابا نه وړاندې د پښتو شعري ادب د نازکخیالۍ په دې میدان کښې خاص زغل کړې نۀ ؤ او د شعر و شاعرۍ دومره ژورو ته څوك ورکوز شوي نۀ وو لکه څومره ژور تل ته يې چې حمید بابا ورکوز شو او برابرې تراشلې ملغلرې يې بهر را وايستلې او د غزل په تار کښې يې د ېر په خیال او فکر سره وپېژندلې"(6).

د نازک خیالۍ په لړ کښې حمید د رنګا رنګ استعارو، تشبیهه ګانو، کنایو، بې ساختګۍ، شوخۍ او فصاحت و بلاغت نۀ کار اخستی دی او بیا ئې د خپل لوړ تخیل په بنیاد په شعر کښې د نوي خیال د راپیدا کولو هڅه کړې ده، هم دغه وجه ده چې په هر غزل کښې ئې د نازک خیالۍ سره سره د جدت پسندۍ شعري نمونې هم په نظر راځي لکه د مثال په توګه دا شعرونه:

چې ور واچوي کمند د تورو زلفو
د بازار په ګډېدۀ کاندي آهوان شوخ(7)
دا زما له غمه شین زړۀ پکښې خیال د یار د شونډو
هسې رنګ زېب و زینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې(8)
چې مې یار له خوبه ویښ نۀ کړې نسیمه!
ګوره الوزه په ورو په تلطف(9)

سرې شونډې ئې زېب هسې پېدا په تبسم کا
عېن لکه غنچه چې پانې وسپړي د ګل(10)
د وریځې میاشت قدري وي په لیدۀ کښې
نو خطان بې ځایه نۀ کاندي که ناز کړي(11)
د رنجو په باڼ دې تېز د سترګو تېغ کړه
بیا به توئی کړې نۀ پوهېږم د چا وینې(12)

په هندي سبک کښې مضمون آفریني په زړې پورې فني خوبي ګڼلې شي- په دې فن کښې ځنو شاعرانوته د حد نۀ زیات مهارت حاصل وي او دوی د دماغ سوزۍ او جګر سوزۍ په نتیجه کښې د مضمون آفرینۍ

نمونې د فخر په طور راوړي- ډاکټر سید عبد الله د علامه شبلي نغماني په حواله لیکي:

*" وہ مضمون افرینی یاتو کوئی نیا استعارہ یاتشبیہ ہوتی ہے۔ یاانوکھا مبالغہ ہوتا ہے لیکن شاعر اس کا مدعی ہوتا ہے اور شاعرانہ استدلال سے ثابت کرتا ہے"(13).*

ترجمه: هغه (مضمون آفریني) یا خو نوې استعاره یا تشبیهه وي یا عجیبه مبالغه وي خو شاعر د دې مدعي وي او په شاعرانه استدلال سره ئې ثابتوي-

حمید د نازک خیالۍ غوندې د مضمون آفرینۍ په فن کښې هم ستر لاس لري د نازکو تشبیهاتو استعاراتو او نورو فني باریکیو په بنیاد ئې ډېر داسې شاعرانه مضامین په کلام کښې ځای کړي دي کوم چې د دهٔ د مضمون آفرینۍ په فن دلالت کوي لکه د مثال په توګه دا شعرونه:

لکه سر پسهٔ په اور غاښونه سپین کا
هسې ما لره له غمه خندا راغله (14)
څهٔ د سر وهلو وېره ښائي ماته
لکه شمع تازه کېږي په بل بل سر (15)
چې ئې ستا په ګل رخسار باندې نظر شي
آئینه شي د نرګس په دود حېرانه (16)
دا زما د آه لوګی پکښې لیدهٔ شي
آئینه دې د مخ نهٔ ده په خط زنګه (17)
که شانه غوندې مې زړهٔ شګاف شګاف شو
ځای ئې نهٔ مومم د زلفو په شګاف (18)

د هندي سبک شاعران د مثالیه شاعرۍ (مثالیه اسلوب) هم ډېر شېدائي دي- دا فني خوبي د دوی په کلام کښې هر ځای په نظر راځي- او بیا کلیم، صائب او غني کشمیري خو د دې فن استاذان ګڼلی شي- مثالیه شاعري صرف د فارسي ژبې پورې محدوده نهٔ ده بلکې د دې نمونې په عربي شاعرۍ کښې هم موجودې دي -ډاکټر سید عبد الله لیکي:

"مثالیہ شاعری کا دار و مدار تمثیل پر ہے۔ وہ اس طرح کہ شاعر ایک مصرع میں دعویٰ کرتا ہے کی حقیقت کا ذکر کرتا ہے۔ اور دوسرے مصرع میں اس کے اثبات کے لیے ایک دوسري متماثل حقیقت کا ذکر بطور دلیل یا بغرض تائید کرتا ہے۔ اسے اصطلاح میں مثال بندی بھي کہتے ہیں۔" (19)

ترجمه: د مثاليه شاعرۍ انحصار په تمثيل باندې دى-هغه داسې چې شاعر په يوه مصرعه کښې د څۀ حقيقت ذکر او دعوىٰ کوي او په دويمه مصرعه کښې د هغې د اثبات دپاره د يو بل متماثل حقيقت ذکر د دليل يا تائيد په طور راوړي دې ته په اصطلاح کښې مثال بندي هم ويلى شي.

عبد الحميد مومند د هندي سبک د دې فني خوبۍ په ځايولو سره په غزل کښې يو ځانګړې رنګ پيدا کړى دى - دۀ چې چرته هم د شعر په يوه مصرعه کښې شاعرانه دعوىٰ کړې ده نو د شعر په دويمه مصرعه کښې ئې د حيات او کائينات څخه د خپلې دعوې ثابتولو د پاره ډېر زبردست دليل هم راوړى دى او بيا اخلاقي نکات ئې په مثاليه شاعرۍ کښې ډېر په فنکارانه انداز سره بيان کړي دي - د مثاليه شاعرۍ يو څو شعرونه ئې په دا ډول دي:

قناعت د حميد زړۀ له غمه خلاص کړ
باد اثر نۀ کړي په شمع د فانوس (20)
په بد خويو اُور له خپله تنه لګي
خپله جاله کړي په ځان تنور ققنس (21)
په راتلۀ ديار د خط ياران په دوک شي
باغ چې اوټوکېږي له باغوان په دوک شي (22)
مهرويان کله خپلېږي ټول د چا
تر سپوږمۍ چاپېره کېږي شپول د چا (23)
لګي لاد خط په وخت د يار عتاب سخت
وي د شپې باد و باران سيلۍ سيلاب سخت (24)

په غزل کښې ښکلي او نازک استعارات او تشبيهات ځايول دهندي سبک خاصه ګڼلې شي - نادر او زړۀ راښکونکي تشبيهات د شاعر کلام ته جدت بخښي په دا وجه د هندي سبک شاعرانو د نوو نوو

تشبیهاتو په استعمال کښې ډېر مهارت لرلو او حقیقت هم دغه دی چې د شعر تاثر د تشبیهاتو څخه پیدا کېږي- پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک لیکي: "د شعر ښکلا په ښکلو او نوو نوو تشبیهاتو او تر کیبونو انحصار لري که چرته په یو شعر کښې د تشبیهه استعمال بر محل وي نو په شعر کښې جدت پیدا شي او اثر ئې زیات شي-" (25)

حمید د تشبیهاتو په استعمال کښې د استاد درجه لري- د دهٔ غزلیاتو کښې د حیات او کائنات څخه ډېر مسحور کن تشبیهات مونده کېږي او د هندي سبک دا فني خوبي ئې ډېر په هنر او تکنیک سره په کلام کښې ځای کړې ده لکه وائي:

مشکین خال ئې په سرو لبو هسې زېب کا
لکه مست په میخانه کښې ملنګ کښېني(26)
په غبار کښې ئې د خط ګوره سرې شونډې
سرې سکروټې دي د اُور په ایرو نغښتې(27)
ځکه زهٔ کوم اسره د یار و خط ته
اسانېږي مشکل متن په خاشو(28)
د اشنا د منګري زلفو په خیال کښې
موی په موی راباندې زهر د منګور ځي(29)
چې نظر ئې د ګلرخ ساقي پر مخ شو
د نرګس د لاسه جام پرېوت نسکور شو(30)

په هندي سبک کښې تجیم ته هم ډېره پام لرنه کېږي او د دې سبک شاعران د شعر په ژبه بې جان (بې ساه) یا مجرد څیزونو ته انساني صفات منتقل کوي او یا کله کله خپل وجداني کیفیات هم په تجیسمي صورت کښې بیانوي ځکه چې دَ دې سره په شعر کښې بې کچه تاثیر پیدا کېږي- حمید د هندي سبک د شاعرانو په شان د تجسیم ډېرې په زړهٔ پورې شعري نمونې راوړې دي- دا فني خوبي هم دهٔ د کلیم ، غني کشمیري، او بېدل غونډې ډېره په هنر مندی سر ځای کړې ده لکه وائي :

چې په مخ د ګلبدن سترګې پرانېزي
غنچه نهٔ کا سم کاتهٔ له دې دماغه (31)

هــر چــې خــوب لکــه غنچــه کــړي پــه طلــب د ګــل انــدامو
پــه پېغــور د هغــو ســترګې شــبنم اوکــاږي پــه تــوک (32)

ســــر نګــــون د ســــتا لــــه شــــرمه
نــــرګس تللــــی دی پــــه خــــواب (33)

نــــرګس کــــوز ګــــوري لــــه شــــرمه
ســــتا د ســــترګو پــــه جــــواب (34)

د لفظــي او معنــوي صــنعتونو پــه اســتعمال ســره د شــعر ښــکلا ســېوا کېــږي او د فصــاحت و بلاغــت درجــې تــه رســي- د هنــدي ســبک شــاعران د صــنعتونو پــه اســتعمال کښــې ډېــر لاس لــري او بيــا د صــنعت تضــاد او صــنعت مراعــات النظيــر نمــونې پــه دې ســبک کښــې پــه خصوصــي توګــه مونـدې شـي- د حميـد کـلام هـم د صـنعتونو نـۀ خـالي نـۀ دی بلکـې هـر قسـم لفظــي او معنــوي صــنعتونه د دۀ پــه کــلام کښــې شــته دي- دلتــه د هنــدي ســبک لــه کبلــه د دۀ د غزليــاتو نــۀ س صــنعت تضــاد او د صــنعت مراعــات النظير څو شعرونه رانقل کوؤ-

**صنعت تضاد**:

لکــــه فــــرق د تــــور او ســــپين پــــه ړانــــدۀ نــــۀ شــــي
هســــې دې د عشــــق پــــه کــــار کښــــې نــــادان عقــــل (35)
مــــرګ اوژونــــد زمــــا پوښــــته لــــه مــــړاؤو ســــترګو
پــــه رســــا ګــــزار پــــوهېږي د تــــور زن لاس (36)

**صنعت مراعات النظير**:

ځکــــه مــــا د عشــــق پــــه تــــوره ځــــان شــــهيد کــــړه
چــــې مــــې نــــۀ رســــي د صــــبر پــــه کفــــن لاس (37)
مــــا ضــــائع کــــوه دم او دوا پــــه مــــا طبيبــــه
نــــۀ دې رغېــــدونی دا د عشــــق لــــه رنځــــه مړونــــی (38)

د هنـدي سبک شـاعران پـه شعوري توګـه مشـکل پسـندۍ تـه مائـل دي او بيـا بېـدل خـو د فارسـي ژبـې د ټولـو نـۀ زيـات مشـکل پسـند شـاعر يـاديږي۔ حميـد بابـا پـه خپـل غـزل کښـي لکـه د صـائب د هنـدي سـبک خصوصـيات پـه اعتـدال سره ځـای کـړي دي۔ دی د هنـدي سبک د هغـو شـاعرانو نـۀ دی چـې شـعر د ابهـام تـر حـده رسـوي۔ البتـه پـه کـلام کښـې ئـې پـه ځنو ځـايونو کښـې داسـې شـعرونه ضـرور شـته چـې هغـه د مشـکل پسـندۍ نـۀ عبـارت ګڼلـې شـي۔ ډاکټـر اقبـال نسـيم خټـک ليکـي: " حميـد بابـا د نـازک خيـالۍ او نکتـه آفرينـۍ پـه سلسـله کښـې دومـره بـاريکيو تـه تلـی دی چې پـه کـلام کښـې ئـې پـه بعضـې ځـايونو کښـې ابهـام هـم پيـدا شـوی دی بعضـې ترکيبونـه ئـې داسـې وضـع کـړي دي چې ډېر په ګرانه ئې ذهن خپلوي۔" (39)

پـه دې کښـې شـک نشـته چـې د حميـد پـه غزليـاتو کښـې يـو څـو ځايـه د مشـکل پسـندۍ نمـونې مونـدی شـي خـو لکـه وړانـدې ذکـر وشـو هغـۀ د هنـدي سـبک خصوصـيات پـه لـړ کښـې کلـه هـم د اعتـدال لمنـه نـۀ ده پـرې ايښـې او د هغـۀ پـه شـعرونو کښـې مشـکل پسـندي ضـرور شـته ولـې د مهمـل او ابهـام شـعرونو څخـه ئـې غزليـات پـاک دي. د مشـکل پسـندۍ څـو شعرونه ئې په دا ډول دي:

پـه مجمـر کښـې مـې د مـخ لـويږي لـه شـوقه
د سـپند پـه طـور کسـي د چشـمانو (40)
د ژونـدون د نفـس بـاد دې چـې پرېباسـي
د مقصـود پـه ائينـه غبـار د روح
نـۀ يـم سـم نـور پـه رکـاب کښـې د يـار تللـی
چـې مـې تللـی دی پـه پښـو کښـې خـار د روح (41)
د اشـنا د مـخ د خـط هيبـت ئـې اوخـوړ
چـې ئـې اوليـد پـه شـرابو کښـې د جـام خـط (42)

پـه شـعر کښـې نـوي شـعري علامتونـه راځـايول کـه يـو خـوا د شـعر فنـي حسـن زيـاتوي نـو بـل خـوا دا د معنـوي پـر اختيـاسبب هـم ګرځـي۔ نـوو شـعري علامتونـو تـه وده ورکـول د هنـد سـبک شـعوري کوشـش وو۔ هـم دا وجـه ده

چې د دوی په غزلیاتو کښې ډېر نوي نوي شعري علامتونه موندۀ شي- د حمید د هندي سبک مهم توکي ټول په غزلیاتو کښې ځای کړي دي - د دې سبک علامتي شاعرۍ ته ئې هم خصوصي توجه ورکړې ده- او د دۀ په غزلیاتو کښې ډېر نوي شعري علامتونه استعمال شوي دي - پروفېسر ډاکټر مهجور خویشکي د وېنا تر مخه : " د هندي سبک هغه مخصوص تشبیهات، استعارې او ترکیبات کوم چې د دې ډلې د شاعرانو د فن یو مشترکه خصوصیت دی هم د عبد الحمید بابا په شاعرۍ کښې موندې شي لکه شمع، آئینه، غبار، نفس، نرګس، خط، ګوهر، اهو، یوسف، خاکستر، ګل رخان او سیا روئي و غېره -" ( 43)

حمید دغه علامتونه په ډېرو نوو او پراخو معنو کښې استعمال کړي دي او د ادبي رنګ له کبله د دۀ علامتي شاعرۍ کښې جدت پسندي هم ځای په ځای په نظر راځي لکه وائي:

هسې راته تریخ کړه شیرین عمر جدا یې
هر نفس چې نغرم خورم زهر و ګنډېر (44)
په یوه قفس حباب له بحره بېل شي
نشته هېڅ په دم وهلو کښې بهبود (45)
چې ئې ستا په ګل رخسار باندې نظر شي
ائینه شي د نرګس په دود حېرانه (46)
چې تناکښې د محنت لري په لاس کښې
هغه نۀ ګوري په ځله د ګوهر مخ (47)

په هندي سبک کښې مبالغې او اغراق ته ډېر اهمیت حاصل دی- خو دا مبالغه هغه د ستور العام مبالغه هر ګز نۀ ده کومه چې د شاعرانو څخه په عمومي توګه په نظر راځي-

د هندي سبک شاعران د خپل اوچت او لوړ تخیل له کبله چې د نازک خیالۍ او مضمون آفرینۍ په رنګ کښې کوم خیالات د ماورائي اسمانونو نۀ د استعاراتو او تشبیهاتو په ژبه راوړي نو د اوچت تخیلي الوت له کبله د اظهار حدونه د مبالغې سره خپل د خپله اولګي او دا قسم مبالغه آمېز

شعرونه ډېر زړۀ راښکونکي تصويرونه د لوستونکو د نظر د وړاندي راولي- د حميد په کلام کښې د مبالغې او اغراق مثالونه هم شته دي خو دا مبالغه آمېز شعرونه په حقيقي معنو کښې د دۀ د تخيل د اوچت الوت نتيجه ده- د حميد د مبالغې څو شعرونه په دا رنګ دي:

ناخبر خلق ئې ولې شفق بولي
دا زما د زړۀ له زخمه دسمال پريوت(48)
په خېرات چې يار د حسن لاس پاس اونيو
لمر سپوږمۍ ورته کچکول پاس په لاس اونيو(49)
دغه ستا د راتلو رَو ګوري دلبره
دا چې سروې هسکه کړې ده غړنګه(50)
که ګذر د باغ په لور کړې زۀ ضامن يم
که دې سروه په رکاب نۀ شوه روانه(51)

د هندي سبک شاعران دا نظريه لري چې په شعر کښې د آمد سره سره اوردنه هم کار اخستل پکار دي- د شعر تخليق د دوی په خيال يو سطحي عمل نۀ دی بلکې دا د جګر سوزۍ او د فني رياضت نتيجه ده- د پروفيسر پروېز مهجور د وينا تر مخه: "دوی شاعري يو مشکل فن ګڼي د يو يو شعر تخيلق دپاره د پوره زړۀ چاودون ضرورت محسوسيږي- د سوز او ګداز د جذبې او احساس د ګډون نۀ بغېر شعر، شعر نۀ ګڼي -شاعري مصنوعي او کسبي نۀ ګڼي- د خيال او ايجاد اصلي منبع الهام ګڼي د معنې د موندلو نۀ پس د اظهار، ارائش او د کلام د ښائست خاص خيال ساتي-" (52)

د هندي سبک په تناظر کښې حميد هم د خپل کلام د فني ښائست خيال ساتلی دی- او د دۀ هر غزل د فني رياضت ثبوت ورکوي، د شعر تخليقي عمل د زخمي زړۀ خوناب ګڼي او په څرګند ډول وائي:

شعر نۀ دی دا خو ناب د زخمي زړۀ دی
يا وتلی ورستی دم له خلې د مړۀ دی
يا نغمه د نيم بسمل مرغۀ د خلې ده
يا مجنون ته معمې کښلې ليلې ده

یــا د وینــو اباســیند وهلــی مــوج دی
یــا لــه ښــهره د حېــرت وتلــی فــوج دی(53)

پــه شــعر کښــې تعلــي کــول د هنــدي ســبک د شــاعرانو یــوه فطــري خــوبي ګڼلــې شــي- د هنــدي ســبک شــاعران د خپــل مفکرانــه فطــرت او فنــي باریکیو په بنیاد په شعر کښې تعلي کول په ځان لازم ګڼي-

د حمیــد پــه غزلیــاتو کښــې هــم شــعري تعلــي شــته خــو د دهٔ دغــه تعلــي د هنــدي ســبک د شــاعرانو پــه شــان پــه حقیقــت او صــداقت اړه لــري- او دهٔ چــې د رنګــین بیــانۍ لــه کبلــه د نــازک خیــالۍ، مضــمون آفرینــۍ پــه لړکښــې کــوم نــازک تشــبیهات او اســتعارات پــه فنــي پېرایــه کښــې پکــار راوستي دي- د هغې په اساس د دهٔ د داسې وینا حق جوړېږي چې:

فارســي بــانو د حېــرت ګــوتې پــه غــاښ کــړې
چــې حمیــد ســخن ســازي کــړه پــه پښــتو کښــې(54)
چــې لــه ښــو ښــو مېړانــو دې میــدان یــووړ
شــابس شــابس د حمیــد فکــره تورزنــه(55)
اوس د فکــــــر تــــــوره واچــــوه حمیــــــده!
چــې دې نشــته پــه پښــتو کښــې څــوک حریــف(56)

د هنــدي ســبک بېلــه بېلــو اجزاؤ پــه رڼــا کښــې د حمیــد د شــاعرۍ د جــائزې د اخســتلو نــهٔ پــس مــونږ پــه دې نتیجــه رســېږو چــې پښــتو ادب کښــې تــر ټولــه نــهٔ ړومبی حمیــد بابــا د هنــدي ســبک فنــي عناصــرو تــه پــه پښــتو کښــې رواج ورکــړی دی -بلکــې د دهٔ د ټــولې شــاعرۍ نفسِ مضــمون هــم د هنــدي ســبک د شــاعرانو پــه خــم کښــې ډوب دی او پــه پښــتو کښــې د هنــدي ســبک بــاني عبدالحمید مومنــد دی- د حســن و عشــق د جمالتــاتو او اجتمــاعي تعلیمــاتو پــه موضــوعاتو کښــې ئــې هــم د هنــدي ســبک اثــرات ځلنــده ښــکاري او بیــا د دهٔ نــهٔ روســتو کامګــار ختــک، بېــدل، کــاظم خــان شــېدا، علــي خــان، محمــد ي صــاحبزاده، او حنــان بــارکزي، دا ســبک پــه پښــتو ادب کښــې د یــوهٔ جدا مکتــب School of thought) پــه حیثیت مقبول کړې او کمال ته رسولی دی-

# حوالې

(1) رضــا همــداني، پښــتو غــزل تــر ديارلســمې صــدۍ پــورې (مقالــه) قند مجله (غزل نمبر)، مردان، مردان شوګر ملز، اګست ۱۹۵۹، مخ ۱۰۴

(2) هېــواد مــل، زلمــی، پــه هنــدکې د پښــتو ژبــې او ادبيــاتو د ايجــاد او ودې پړاوونــه، افغانســتان، د افغانســتان د علومــو اکېــډمي، دويــم چــاپ، ۱۳۶۹ ه ش، مخ ۳۰۹

(3) خويشــکي، پرويــز مهجــور، ډاکټــر، هنــدي ســبک او کــاظم خــان شــيدا (مقالــه) مياشــتنۍ پښــتو، پېښــور، پښــتو اکيــډمي، پېښــور يونيورســټي، جلــد ۲۱ ً، شماره ۷-۸-۹، جولائي اګست ستمبر، ۱۹۸۹ء، مخ ۲۲

(4) عبــد الحميــد، دُر او مرجــان، يعنــي د عبــد الحميــد دېــوان: (تصحيح او مقدمه)

(5) خويشکي، پرويز مهجور، مخ ۷

(6) ســائل، خواجــه محمــد، عبدالحميــد بابــا، پېښــور، عظيم پبلشــنګ هاؤس 1985ء، مخ103.

(7) عبد الحميد، دُر او مرجان، مخ ۲۳

(8) هم دغه، مخ ۱۳۱

(9) هم دغه، مخ ۴۸

(10) هم دغه، مخ ۵۶

(11) هم دغه، مخ ۱۱۴

(12) هم دغه، مخ ۱۳۳

(13) عبــد الله، ســيد، ډاکټــر، فارســي زبــان و ادب، لاهــور، مجلــس ترقي ادب، طبع اول، ۱۹۷۷ء، مخ ۲۱۳

(14) عبد الحميد، دُر او مرجان، مخ ۹۹

(15) هم دغه، مخ ۳۱

(16) هم دغه، مخ ۱۰۲

(17) هم دغه، مخ ۹۷

(18) هم دغه، مخ۵۵

(19) عبدالله، سید، ډاکټر، فارسي زبان و ادب، مخ ۴۸
(20) عبد الحمید، در او مرجان، مخ۳۶
(21) هم دغه، مخ۳۸
(22) هم دغه، مخ۱۲۱
(23) هم دغه، مخ۹
(24) هم دغه، مخ۱۸
(25) خټک، اقبال نسیم، ډاکټر، د رنګ اوبو قافله، پېښور، اداره علم و ادب پاکستان صوبه سرحد، جولائي ۱۹۹۱ء، مخ ۲۸۰
(26) عبد الحمید، دُر او مرجان، هم دغه،مخ ۱۱۸
(27) هم دغه، مخ۱۱۳
(28) هم دغه، مخ۷۳
(29) هم دغه، مخ۷
(30) هم دغه، مخ۷۰
(31) هم دغه، مخ۴۷
(32) هم دغه، مخ۵۵
(33) هم دغه، مخ۱۴
(34) هم دغه، مخ۱۵
(35) هم دغه، مخ۵۹
(36) هم دغه، مخ۳۷
(37) هم دغه،مخ۳۷
(38) هم دغه، مخ۱۱۰
(39) خټک، اقبال نسیم، ډاکټر، د رنګ اوبو قافله، مخ ۷۱
(40) عبد الحمید، در او مرجان، مخ۲۲
(41) هم دغه، مخ۴۵۱
(42) خویشکي، پرویز مهجور، ډاکټر، هندي سبک او کاظم خان، مخ۲۲
(43) عبد الحمید، در او مرجان، مخ۳۱
(44) هم دغه،مخ۲۵
(45) هم دغه، مخ۲۵

(46) هم دغه، مخ۱۰۲
(47) هم دغه، مخ۲۴
(48) هم دغه، مخ۱۷
(49) هم دغه، مخ۷۳
(50) هم دغه، مخ۹۷
(51) هم دغه، مخ۱۰۲
(52) خویشکي، پرویز مهجور، ډاکټر، هندي سبک ..... مخ ۱۱
(53) صمیم، محمد آصف، د عبد الحمید مومند کلیات، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ م ۲۰۰۴ء ص ۴۳۴-۴۳۵
(54) عبد الحمید، در او مرجان ، مخ ۵۸
(55) هم دغه، مخ۱۰۲
(56) هم دغه، مخ۴۹